DAILY
اراده
د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال پنجم شماره چهاردهم
شماره مسلسل ۶۴۱
چهارشنبه ۲ جدی ۱۳۸۳ هـ ش
۱۱ ذیقعده ۱۴۲۵ هـ ق
22 December, 2004

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

گزارشی از یک جنایت هولناک

پنجاه نفر را به قتل رسانیده ایم

یکی از دوتنی که به اتهام قتل یک نوجوان برگشته از دوبی به وطن درتوقیف قرار دارند اعتراف کرده است که تا اکنون پنجاه نفر را بقتل رسانیده اند. به گزارش رادیو آزادی زمانی پرده ازین قتل های سریالی برداشته شد که مقامات امنیتی هنگام جستجو درمنزل مسکونی این دو متهم در سیدنورحمد شاه مینه اجساد شش تن افراد بقتل رسیده را از زیر خاک بیرون ساختند.

خبرنگاری که شاهد این ماجرا بوده گزارش میدهد که صحن حویلی تماماً از اجسادی مملو بود که درعمق یک متری در زمین دفن شده بودند، مالک این منزل گفته است که فرش سمنت شده اتاق ها هم مانند گذشته به نظر نمی آیند احتمال می رود که در داخل اتاق ها هم اجسادی مدفون ساخته شده باشد. ص۴

خلع سلاح سربازان فرقه پانزده

سربازان فرقه پانزده ولایت کندهار با برنامه خلع سلاح وغیر نظامی کردن افراد مسلح DDR پیوسته اند، این فرقه اخیراً ازسوی مقامات وزارت دفاع لغو اعلام شد. نزدیک به هزار فرد مسلح که پیش ازین مربوط به فرقه پانزده بودند به زندگی غیر نظامی بازگردانیده شده اند، همچنین درحدود سه هزارفرد مسلح درولایت کندهار خلع سلاح شده اند، عزیز احمدزی مسوول برنامه DDR درکندهارگفت که ازین تعداد دو هزار و هفتصد تن به برنامه غیر نظامی سازی پیوسته اند، وبقیه به اردوی ملی کشورجذب شده اند.

به گفته مقامات تاکنون بیش از ۳۰ هزار فردمسلح در کشور خلع سلاح شده اند .

په راتلونکی دوو ورځوکی به نوې کابینه اعلام شي

دنوی کابینې وزیران باید یوازې افغاني تابعیت ولري

جمهور رئیس ښاغلی حامد کرزی به وغواړي چې د نوی کابینې ټول وزیران دې یوازې افغاني تابعیت ولري. د ښاغلی کرزی ویاند جاوید لودین پرون په کابل کې یو خبري کنفرانس ته وویل: جمهور رئیس به له ټولو هغو وزیرانو نه چې دوه تابعیتونه لري وغواړي چې په دندی له کمارلو مخکې خپل دویم تابعیت لرې یا لغوکړي.

لودین دغه راز وویل چې نوموړی د اساسي قانون د هغې مادې پوره درناوی کوي چې وايي وزیران باید د پوهنتون لوړې زده کړې ولري. ۴مخ

دوه کسه
بهرني غله په نیمروز کې ونیول شول

د نیمروز په ولایت کې دوه تنه بهرنیان د غلا په تور نیول شوي دي.

ددغه ولایت والي عبد الکریم برهاوي ویلي چې په نیول شوو کې یو ایرانی او بل یې د ترکیې هیواد وګړی دی چې له یوځایی صراف څخه یې د نهه میلیونو ایرانی تومانو له غلا کولو وروسته د پولیسو له خوا ونیول شول. دغه کسان د پوښتنو لپاره کابل ته راوستل شوي دي.

زابل له ګاونډي هیوادایران سره په شریکه پوله پروت ولایت دی چې د سوداګری د کاروباریانوسربیره سیلانیان هم له بهرنیو هیوادو څخه ورته په اسانی راتللی شي.

بدرفتاری نظامیان امریکایی با زندانیان

پولیس فدرال امریکا (اف بی آی) اعلام کرده است که طی دو سال تحت نظر قراردادن زندان متهمان به عضویت در القاعده در پایگاه امریکایی گوانتانامو در کیوبا موارد متعددی از بدرفتاری با زندانیان را شاهد بوده است.

آن گونه که پولیس فدرال امریکا اعلام کرده، مأموران پولیس فدرال در این زندان مشاهده کرده اند که زندانیان را به حال چهار زانو به مدت بیش از ۲۴ ساعت به زنجیر می بندند، بدون اینکه به آنان اجازه خوردن و آشامیدن یا رفتن به تشناب بدهند. ص۴

د لوی او بښونکي خدای په نامه
سرمقاله

ولي د نرخونو د کنټرول او څارنې په برخه کې ټاکلي اداري کار نه کوي

زموږ د هیواد پدې اوسنیو شرایطو او حالاتو کې چې لا ډیرې ستونزې په خپل ځای لاینحل پاتی دی یوه هم د هیواد د مرکز او ولایتونو په بازارونو کې د بیلا بیلو توکو او خوراکي موادو لوړ او لوړیدونکی نرخونه دي چې د هری ورځې په تیریدو سره له څارنې او کنټرول پرته لا لوړیږي چې پدې برخه کې یې د هیوادوالو اندیښنه زیاته کړیده.

د هیوادوالو له زیاتو او پرله پسې شکایتونو سره سره د اړوندو ښاروالیو د نورو سرته رسیدونکو کارونو تر څنګ اړوندو ځانګو ونه شوای کړای چې د خپلو ورکړل شوو نرخونو د څارنې او کنټرول په برخه کې د هیوادوالو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي.

کله کله چې د نرخو او بیو د ورځ په ورځ زیاتوالی او لوړوالی خبره رامنځته کیږي ښاروالی یې د کنټرول دنده د سوداګری په وزارت وراچوي او هغه یې د ښاروالیو د اړونده ارګانونه دنده بولې. خو ددواړو تر منځ د نرخونو د نه کنټرول او خلاص لاس د پریښودلو له امله پلورونکو ته ددې زمینه برابره شوی ده چې په پوره بې انصافی سره خپل مالونه په هر بیه چې زړه یې وغواړي وپلوري او یو موټي پیسې تر لاسه کړي.

د هیواد په ټولو سیمو او بازارونو کې د نرخونو لوړوالی او سرغړوونکوته دنه سزا نه ورکول پداسې حالاتو کې رامنځته کیږي چې ددولتي کوپراتیف له لارې د سیالي نشتوالی هم موجود دی او هیوادوال د واکمنی بیکاری په شته والي کې د لږو معاشونو درلودونکي او له زیاتو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي.

دا چې د نرخونو د څارنې او کنټرول او سرغړوونکو ته د درندو سزاګانو د ورکولو دنده دولت د کومی اداري په اوږوکی وراچوي خو باید په هیواد کې ددغې ښکاره او پرتې ستونزې د حل په برخه کې کارنده ګامونه پورته شي او تر هغه پورې چې د کنټرول او څارنې د اړوندې اداري له خوا سرغړونکو ته سختی سزاګانې ورنه کړل شي د نرخونو د ثابت ساتلو په برخه کې اسانتیاوی نشی رامنځته کیدای.

د نرخونو د لوړوالي یو علت د اړوندو دولتي ادارو له خوا له قراردادیانو سره په لوړو بیو قرارداد دی چې په بازارونو کې د بیو په لوړوالي باندې اغیزه ښندي. په دویم ګام کې د بیلا بیلو اصنافو د اتحادیو د همیشنیو او نه بدلیدونکو مشرانو شته والی دی چې د نرخو د ټاکل کیدو پر وخت له اړوندې اداري سره له لاسلیك کولو وروسته نشي کولای چې په خپلو اصنافو باندې د نرخونو ثابتوالی ومني ټاکل شوی نرخو نه یوازې د کاغذ په مخ پاتې کیږي د اصنافو نوموړي مشران دا کار نشي کولای باید په دوی باندې نوی نظر وشي داسې کسان د اصنافو په مشری کې وټاکل شي چې په خپلو اصنافو باندې حاکم وی دپیرودونکو او پلورونکو تر منځ د یو عادلانه حرکت په پرمخ بیولو کې خپلی هڅې همیشنی کړي داسې ډیر علتونه شته چې د نرخونو په زیاتوالی اود پلورونکو په خپل سری کې رول لري باید چې اړوندې ادراې یې د مخنیوي په برخه کې اغیزمن او ګټور ګامونه واخلي د هیوادوالو د بیوزلی په پام کې نیولو سره د هغوی دغې موجودې ستونزې ته ځواب ووایي.

بازگشت مهاجرین معطل قرار داده شد

سازمان ملل متحد درامور پناهنده گان از تعطیل پروگرام بازگشت داوطلبانه مهاجرین افغان خبرداده است. تصمیم تعطیل این برنامه که از تاریخ بیست وهفتم دسمبر الی اول مارچ سال آینده ادامه خواهد داشت ، بعلت سردی هوا اتخاذ شده است . به گفته نادر فرهاد سخنگوی UNHCR درصورتی که تعداد داوطلبان برگشت کننده به کشور ازدیاد یابد فعالیت مجدد این برنامه را اعلام خواهند کرد .

از زمان آغاز برگشت داوطلبانه مهاجرین از سال ۲۰۰۲ میلادی تا حال تعداد بیشتر از دوملیون افغان به کمک دفتر UNHCR به کشور عودت نموده اند.

په چهار اسیاب کې ۵۰۰۰ کیلو ګرام چاودیدونکي توکي وموندل شول

نړیوالو سوله ساتوځواکونو د کابل د چهار اسیاب په ولسوالۍ کې د وسلو او مهماتو یوه ستره زیرمه موندلې ده. پدغه زیرمه کې په وسلو او مهماتو سربیره پنځه زره کیلو ګرام چاودیدونکي توکي هم کشف شوي دي.

د ای ساف د یو چارواکي په وینا چې ددغه زیرمې په موندلو کې د سیمې یوه اوسیدونکی ددوی له ځواکونو سره مرسته کړی ده. دغه چارواکي په ډاګه کړه چې ددوی له سوله ساتوځواکونو سره د خلکو دغه راز همکاري په ډاګه کوي چې افغانان له جګړو ستومانه شوي او وسله والې ډلې نشي زغملای. ۴مخ

په خوست کې
د کوکنارو له منځه وړلو کمپاین
پرمخ روان دی



د خوست ولایت په ګوربزو ولسوالۍ کې د کوکنارو په لسګونو جریبه ځمکې اړول شوې ده. دغه کار وروسته له هغه شوی چې ځایي دولتي چارواکو د یوې اعلامې په خپرولو سره له خلکو غوښتي چې د کوکنارو له کښت نه دې لاس واخلي د خوست چارواکي غواړي چې د خوست په نورو ولسوالیو کې هم د کوکنارو د کښتونو د اړولو لړۍ پیل کړي. ۴مخ

یادداشت مبصر:

دو نقیض باهم جمع نمی آید

بقلم : آسوده

سالهاست که زمین ما از بی قانونی میسوزد، پنداری که این زمین به زمین لم یزرعی بدل شده است . گویی که آسمان این زمین چنان خشکسالی زده شده ، که سرچشمه های قانون را همه جا کور گردانیده اند ولب های همه جویها ترک برداشته است .

بگذارید، اگر قانون ، قانون است ومرجع همگان ، سرچشمه اش همچنان فوران کند ودرهمه جویها جاری گردد وزمین تشنه این سرزمین را سیراب گرداند!

کلاوه سردرگم سیاست درکشور ما هر روز با لغزیدن درراهها وبیراهه های غیر واقعبینانه گرهی دیگر میخورد و باچالش تازه یی روبرو میگردد .

سالها ما قانون نداشتیم وهر بیقانونی وکجروی وتخلف خویش را معلول ومدلول نبود قانون می پنداشتیم، حالا که قانون مانند آفتاب دلیل آفتاب آمده است ، هنوز صغرا کبرا می چینیم و"لیت" و"لعل" میکنیم.

معلوم نیست تاکی این شمشیر داموکلس را برسر مردم آویزان میتوان نگهداشت ودربرابرهر "نعم" و "لا" سرجنبانید وچشم به شاهین ترازو دوخت ، درصورتیکه این ترازو هرگز به میزان نخواهد آمد.

اگر می پنداریم که این ترازوی بی موازنه ، میزان خواهد شد، این بدان معناست که فاصلهء میان نیکی وبدی ازمیان خواهدرفت وهر سپیدی با سیاهی خواهد آمیخت ، این امر ازنظر منطق هرگز امکان پذیر نیست نمیتوان هم خرما وهم ثواب هردو را بدست آورد، و دو تربوز را دریک دست گرفت، اگر سیاست چنین حکم بکند، آن سیاست سالم نخواهد بود، و سیاست ماکیاویلستی بیش نخواهد بود ونمیتوان مردم را بااین تارها گردن آویز کرد ومجاب ساخت.

اگر مصلحت را درنظر بگیریم ، قانون را زیر پا کرده ایم واگر قانون را زیر پاکردیم ، دموکراسی وعدالت را از دروازه را نده ایم .

منطق حکم میکند که دو نقیض با هم جمع نمیاید ، بعبارهء دیگر اجتماعی نقیضین محال است ...

اکنون پرسش اینست که چرا سیاستهای ما درهمین محور ها می چرخد، آیا راه سومی وجود ندارد؟

قانون اساسی قضایای فراوانی را صریحاً بیان کرده که اظهر من الشمس است، پس چرا دنبال صغرا وکبرا وقیاس واستقراء می گردیم؟

قانون میگوید: وزیر باید تحصیلات عالی داشته باشد...

قانون میگوید: تابعیت دوگانه وزیر مشروط به رای شورای ملی است .

ولی ما پیوسته دنبال راه سومی میگردیم ، راهی که وجود ندارد.

اگرما دست به دامن قانون شویم ، هیچکسی نمیتواند دست به گریبان ما بیندازد ، واگر راهی را که وجود ندارد پی گیریم، به مفهوم آنست که میخواهیم با آنانیکه امیدوارنه دست به دامن قانون دراز کرده اند، دست وگریبان شویم، به عباره دیگر ما میخواهیم از زیر ریش قانون وقانون پذیران خرسوار بگذریم ، همین ! واین دیگر سیاست کردن نیست !

ملامت هغه دي چې د ټوپک ماشي ته ګوتې ور وړي

سهراب دیدار

د جدی د میاشتی ۶ نیټه، زموږ د هیواد په تاریخ کې هغه توره ورځ ده چې زموږ دهیواد او خلکو د وروسته پاتی ژوندانه د ټولو بنسټونو په نړولو کې یې زیاته زمینه برابره کړه د خلکو د پراخو ولسونو هغه مخالف حرکتونه چې د ثور د اومی نیټی د پوځی کودتا په کولو سره د دولت په مقابل کې رامنځته شوی وو زیات او سخت شول. پدی ورځ د وخت د شوروی اتحاد سور پوځ تودو اوبو ته د ځان رسولو په خاطر زموږ په هیواد کې د شوروی په ګټه زموږ په هیواد کې د رامنځته شوو شرایطوځینی په استفاده د هیواد د عام ولس له رابللو پرته په پوځی لباس کې داخل شو له عصری وسلو څخه په استفاده یې زموږ په هیواد کې د جهاد د غږ په خپه کولو پیل وکړ.

هغوی د خپل راتګ په لومړی پیل کې د وخت جمهور رئیس حافظ الله امین ووژلو او ببرك کارمل یې د هغه په ځای وټاکه.

د شورویانو راتګ زموږ هیواد ته چې نابللی پوځی لباس کې راغلی وو هغوی غوښتل چې تودو اوبو ته د خپلی پخوانی کړنلاری او اهدافو له مخی ځانونه ورسوی که چیری دا کار د پاکستان او لویدیځو هیوادونو په زیان تمامیده لویدیځ وال د وخت د شوروی اتحاد له قوت څخه په ویره کې وو پاکستان هم نشوای کولای چې د شورویانو مخه په پاکستان کې د خپلو پوځیانو په مرسته ونیسی ځکه چې هم یې وطن ورانیدو او هم یې پوځی او اقتصادی زیانونه لیدلای شول نو یې زموږ افغان مهاجرو ته د ورتګ لپاره خپله غیږه خلاصه کړه له افغان مهاجرو او مجاهدینو سره یې د هر راز مرستو لړی له بهرنیو لویدیځو هیوادونو څخه را پیل شوه تر هغه پوری چې زموږ هیواد وران شو افغانان په خپلو کې ووژل شول نه جبران کیدونکو مادی او معنوی زیانونه زموږ هیواد ته واوښتل تر هغه پوری چې روسان د بیلابیلو فکتورونو له مخی زموږ له هیواد څخه وتلوته مجبور شول او په ۱۳۶۷ هـ.ش کال کې یې زموږ هیواد د ډاکټر نجیب الله د واکمنی په وخت کې پریښود خو زموږ په هیواد کې د روسانو په وتلو سره بیا هم د جهاد لړی پای ته ونه رسیده.

د مجاهدینو بیلابیلو تنظیمونه نه یوازی دا چې په خپلو کې سره یو کیدلی نشول بلکی د ډاکټر نجیب الله د واکمنی د پای ته رسولو لپاره یې خپله مبارزه جاری وساتله تر هغه چې په ۱۳۷۱هـ.ش کال د ثور په اتمه نیټه د هغه واکمنی پای ته ورسیده او په ځای یې په هیواد کې د اسلامی دولت جوړ شو اصلی خبره داده چې په هیواد کې د شورویانو په وتلو سره چا ګټه وکړه؟

دا خو ښکاره ده چې زموږ هیواد وران شو افغانان شهیدان شول او شمیر یې میلیونو ته ورسید خو یوازی یوه معنوی ګټه چې شورویان موږ له خپلی خاوری څخه د څلورو فکتورونو څخه د یو فکتور په زور مجبور کړل چې زموږ له خاوری څخه ووزی او موږ افغانانو د نورو ویاړونو په څیر یو بل ویاړ د ځان په ګټه کړ. خو زیاته ګټه پدی کې پاکستان وکړه چې له یوی یې تودو اوبو ته د روسانو مخه ونیوله له بلی خوا یې د مهاجرو د بیلابیلو کمپونو په ادارو کې د خپلو کسانو لپاره د کار زمینه برابره شوه او هغه هیله چې روس کوله د بیرته د خاورو سره خاوری شوه د هری ورځی په تیریدو سره د دولت او ولس ترمنځ زیات واټن ځکه رامنځته کیده.

چې په هیواد کې امن او امنیت له زیات خرابیدو سره اداری فسادونه د لوړ ګراف په لوری شول تر هغه چې د طالبانو واکمنی او حرکات رامنځته شول.

په پاکستان کې معلوم الحاله کړیو بیا له طالبانو سره د هر راز مرستی د کولو تیر وډبولو او پوځی کسان یې په واك کې ورکړل چې په هغه زور یې ژر پرمختګ وکړ خو اوس چې د طالبانو واکمنی له منځه تللی ده اوس هم ځینی د هغوی پلویان زموږ د هیواد اوپاکستان له قبایلی سیمو زموږ هیواد ته را اوړی او په ورانوونکو فعالیتونو بوخت دی.

د دی دومره اوږدو جګړو او بهرنیو لاسوهنو په نتیجه کې باید اوس افغانان پدی پوه شی چې ډیرو زموږ د هیواد په دننه کې د خپلو شومو اهدافو د درلودلو او سرته رسولو لپاره لاسوهنی کولی او په هیواد کې یې د جګړو ډګر تود ساتلی دی اوزموږ په هیواد کې یې جګړی او ورانۍ د ځان په ګټه بللی دی اوموږ هم په خپلو لیکنو کې تل ملامتی په نورو اچوو خو اصلی ګنهکار هغه دی چې پخپل لاس د خپل وطن د ورانولو او په هیواد کې د افغان د وژلو لپاره په ماشه لاس کشکوی. دا چې نور ولسونه په موږ د ځان په ګټه حرکات کوی موږ ولی نوری نړۍ ته ونه ګورو او خپل وطن په خپله وران کړو او خپل افغانان په خپل لاس ووژنو.

اوس چې په هیواد کې یوه ارامه فضا د جوړولو لپاره په نسبی توګه راغلی د ټولو افغانانو دنده ده چې د نورو د ګټو لپاره خپل ځانونه استعمال نه کړي د خپل وران هیواد د جوړولو لپاره چې د جګړو په کلنو کې د نورو په ګټه او د نورو په لمسون وران شوی دی یو لاس شی یو اتحاد رامنځه کړی او د پرون دننه کې رامنځته شوی توپیرونه شاته وغورځوی څو وکړای شو ځانونه د بری درشل ته ورسوو، او د نورو په هڅونه د ټوپك په ماشو لاس ورتیر نه کړو.

د پکتیا د خلکو په روغتیایي برخه کې ستونزې د اندیښنې وړ دي

ګردیز ښار وفادار.

که څه هم د تیرو دوو لسیزو په اوږدو کې هر څه په خاورو بدل شوی، ملی شتمنی تالاترغه شوی ده او د خلکو د ژوند په اسانتیاوو کې خنډونه او مشکلات رامنځ ته شویدی او ورسره د خلکو ستونزی پسی زیاتی او د اندیښنی وړ خساری زموږ خلکو زغملی دی چې دغه را ولاړی د خلکو د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې تر سترګو کیږی او له دی برخو څخه یوه ستونزه هم د خلکو د ژوند د روغتیایی ستر نعمت برخه ده چې پکی لویې ستونزی رامنځ ته شویدی او خلکو تر اوسه پوری پدی لاره کې د اندیښنی وړ ستونزی ګاللی او ګالی یې. او همدا اوس هم خلك د ښی روغتیا د تضمین په خاطر ښو مجهزو وسایلو، سامان الاتو اوفنی پرسونل او مجربو طبیبانو باندی سمبال شویو کلینیکونو او روغتونونو ته اړتیا لری خو که څه هم د اوس لپاره د خلکو مشکلات په ډیره کمه اندازه له منځه تللی خو بیا هم د خلکو عمده ستونزو ته د حل او پای ټکی ندی ایښودل شوی او خلك یو لړ شکایتونه او سرټکونې کوی او دلته د ګردیز د ملکی روغتون په انګړ کې یو شمیر ناروغان چې د دغه ولایت له بیلابیلو ځایونو څخه راغلی دی خپلی ستونزی داسی مطرح کوی.

عبدالمنان د زرمت ولسوالۍ د نیکنام له کلی راغلی او پخپله ناروغ دی وایی چې: دا می دریم ځل دی چې د تداوۍ لپاره راځم خو کومه دوا چې د روغتون د طبیبانو لخوا ماته راکړل شویده له وخته اوښتی ده هیڅ تاثیر راباندی نه کوی. عبدالسلام د کلالګو اوسیدونکی چې ښځینه ناروغه یې راوړی وایی دلته سم تشخیص نه کیږی او مرض نه شی معلوملی او نه هم سمه دوا راکوی.

د میرزا په نوم یو بل ناروغ چې سخت ټوخیږی او دمومن خیلو اوسیدونکی دی وایی زه د کابل د تللو مصارف نه لرم اود خپلی بیوزلی او د ډاکټرانو د ناپوهۍ په وجه ناروغۍ راباندی اوږده شویده. نه پوهیږم څه وکړم لاره رانه ورکه شویده.

خو انارګل چې د خپل اته کلن زوی دینه ګل د تداوۍ لپاره راغلی دی او خپل کلی د میرزا کې ازاد خوا معرفی کوی وایی: اوس خو شکر دی چې ارامی راغلی ده جنګونه نشته، لاری خلاصی دی مګر څو کاله مخکی دلته هیڅ شی نه و حتی د انسان قدر نه کیده او ناروغۍ تر دی هم زیاتی وی امنیت نه و.

نه ډاکټرو نه روغتون او نه هم دوا خو اوس هر څه بدل شویدی روغتون شته او ډاکټران هم شته موږ هیله کوو چې وضعه نوره هم د ښه کیدو په لور روانه شی او دولت پدی برخه کې زیاته توجه وکړی.

خو کله مو چې د ناروغانو شکایتونه او سرټکونې له ډاکټر محمد اصف څخه چې د ګردیز د ملکی روغتون د ماشومانو د داخلی په څانګه کې دنده تر سره کوی وپوښتل هغه دا ومنله او وی ویل: زموږ ټوله دوا دبهرنیو هیوادونو وړیا مرستی دی او ټولی هغه دواوی چې څلور یا پنځه میاشتی وخت یې پاتی وی هغه د مرستی په نوم راکوی او کله چې دا دوا د افغانستان په روغتونونو ویشل کیږی هم دری او څلور میاشتی وربانندی تیریږی چې په همدی حساب د نوموړو ناروغانو خبری د تایید او قبول وړ دی او کله چې موږ د عامې روغتیا له وزارت څخه د دوا د استعمال په باب هدایت غواړو هغوی هم داستعمالولو اجازه او هدایت راکوی. او وروسته یې موږ ناروغانو ته ورکوو. که څه هم زموږ روغتون د ولایت په سطح جوړ شویدی خو د خیریه مؤسساتو سره د ولسوالۍ په سطح ثبت شوی خو هغوی موږ ته ښه موثره دوا راکوی هغه هم کمه او د ټولو ولسوالیو ناروغان دلته راځی او کفایت ورته نه کوی نو ځکه زیاتره نسخی موږ شخصی درملتونو ته لیکو. خو کله مو چې د موضوع د ښی سپینتیا په خاطر د دغه روغتون مرستیال دکتور سید غلام سخی فیضی څخه وپوښتل هغه داسی وویل:

کله چې د عامی روغتیا د وزارت لخوا موږ ته دوا راکول کیږی په اول قدم کې هغه د وزارت له لوری کنترولیږی که مفیدیت یې درلود راکوی یې او که نه یې درلود نه یې راکوی.

موږ د وزارت او د MSH سره په ګډه دی تفاهم ته رسیدلی یو، چې په راتلونکی کې زموږ روغتون بیرته د ولایت په سطح ونیول شی. په اخر کې د روغتون مرستیال هیله څرګنده کړه چې قول اردو، ملی امنیت او پولیس چې دوی پخپله تشکیل کې هر ارګان یو یو روغتون لری. بیرته فعال او په کار پیل وکړی تر څو د خلکو خدمت په ښه توګه ترسره شی.

هو! موږ همداسی ورته هیله لرو تر څو په ټول افغانستان کې په تیره بیا په ګوټ ګوټ کې ټولی ورانی او ویجاړی بیرته رغون بیا مومی اوټول روغتونونه کلینیکونه بیرته فعال او د خلکو دخدمت په واك کې ورکړل شی. ځکه چې روغتیا د انسان لپاره لوی نعمت دی نو دولتی چارواکو په تیره بیا د عامی روغتیا وزارت ته پکار ده چې پدی لاره کی نه ستړی کیدونکی ګامونه واخلی او باید د وخت له غوښتنو او ایجاباتو سره سم د روغتیایی چارو د اسانتیا په خاطر داسی صحی وسایل او سامان الات تر لاسه کړی چې زموږ د بیوزلو خلکو د ژوندانه ضمانت وکړی او پردیو هیوادونو ته روغتیایی معایناتو په خاطر اړ نشی او هر څه پخپل کور کې دننه ولرو او وربانندی بسیا شو.

متصدی صفحه: بشیرنذیر

ورزش ضامن تندرستی

آرزو دارم در آینده فوتبالر ورزیده شوم

زهره که خود را متعلم صنف هشتم لیسه بی بی ساره وعضو تیم مینی فوتبال کلپ دانش به خبرنگار روزنامه اراده معرفی نمود گفت: مدت سه ماه می شود که در نتیجۀ تشویق فامیل و استاد سپورت مکتب مینی فوتبال را آغاز نمودم واکنون عضو تیم دانش مینی باشم وی که با لباس ورزشی ملبس بود، گفت هم اکنون برای انجام مسابقه دوستانه با تیم مینی فوتبال سنگر آماده گی میگیریم و قرار است امروز تیمهای همبستگی، حریت، دانش و سنگر، که هر چار تیم دخترانه می باشد با هم مسابقه دهند.

وی بجواب اینکه شرایط ورزش را برای دختران چگونه ارزیابی می کند، گفت: بسیار خوشحالم، که برای دختران زمینۀ اجرای تمرینات ومسابقات دوستانه ورزشی مهیا گردیده، اما طوریکه لازم است تا کنون شرایط و امکانات مساعد نگردیده و امید وارم، که مسوولین دولتی بخصوص کمیته ملی المپیک در زمینه توجه واقدامات لازم نماید.

وی بجواب سوالی که تاکنون کدام مراجع با شما مساعدت نموده، اظهار داشت که فدراسیون بین المللی فوتبال چندین بار وعدۀ کمک نموده اما تاکنون به وعدۀ های خود عمل نکرده و صرف کمیتۀ ملی المپیک یک اندازه لباس برای ما مساعدت نموده و امیدواریم که مراجع مسئول وفدراسیون فوتبال بین المللی در قسمت اعمار وایجاد میدانهای ورزشی و تهیه وسایل سپورتی با ورزشکاران افغانی اعم از ذکور و اناث کمک و همکاری نمایند.

خبرنگار علاوه نمود، که در نتیجۀ مسابقات که میان تیمهای یاد شده درجمنازیوم لیسه امانی صورت گرفت تیم حریت دو مقابل صفر بر تیم همبستگی غالب و تیمهای دانش وسنگر با هم مساوی گردیدند. گفتنی است، که این اولین مسابقات مینی فوتبال میان تیمهای دخترانه در سطح کشور بود.

مسابقات برای انتخاب تیم ملی فوتبال

مسابقات انتخاباتی تیم ملی فوتبال افغانستان با شرکت ده تیم از ولایات مختلف کشور برگزار گردید در این مسابقات روز یکشنبه ۲۹ قوس سال جاری در استدیوم ملی به سیستم لیگ برگزار شد علاوه بر دو تیم فوتبال از کابل هشت تیم دیگر از هرات، کندهار، بلخ، تخار، ننگرهار، پکتیا، کندز و سمنگان نیز اشتراک دارند. این بازی ها روز دوشنبه به علت اختلافات بین تیم های آزاد افغانستان با فدراسیون فوتبال کشور با راه اندازی بازی های تیم مُلی خوانده شده است و گفته میشود این مسابقات دیروز باز از سر گرفته شد.

محو استعمال مواد مخدر و آگاهی جوانان

به اساس تفاهم بین رهبری کمیته ملی المپیک افغانستان واداره کنترول مواد مخدر جرایم ملل متحد مسابقات انتخاباتی تیم ملی وجوانان ذکور باسکتبال افغانستان دایر میگردد این مسابقات تحت نام محو استعمال مواد مخدر وآگاهی جوانان از اضرار آن در ۲۸ قوس درجمنازیوم پولیتخنیک کابل برگزار گردید که درجریان هفته جاری بمقابله هشت رقیب در چهارمیدان پیگیری شد دربازی اول تیم ننگرهار به دلیل حاضر نشدن درمیدان مسابقه درمقابل رقیب خود وزارت آبیاری ومنابع آب بازنده معرفی شدو تیم پولتخنیک که میزبان این بازی ها است ۴۱ بر ۵۳ درمقابل انجمن بازگشایی جوانان افغانستان شکست را پذیرفت آریانا ۶۲ مقابل ۲۱ حریف نامدارش کابل کلپ را از سرراه دور ساخت وپوهنتون کابل رقیب خودپوهنتون تعلیم وتربیه را ۸۹ مقابل ۶۰ درهم کوبید ودیروز نیز این مسابقات درجمنازیوم پولیتخنیک با مقابله هشت رقیب درچهار میدان پیگیری شد.

مسابقات انتخاباتی کاراته

قرار است مسابقات انتخاباتی جوانان ونوجوانان تیم منتخب کاراته شهر کابل درسبک های کیوکوشن وانتنری بتاریخ اول جدی سال روان دراستدیوم ورزشی کابل برگزار شود این مسابقات بعد ازختم مسابقات کاراته به سبک های آشیا را ونیوفول کارتا بین جوانان ونوجوانان برگزار میگردد.

ایجاد سیزدهمین کلپ بدمنتون دختران

بتاریخ ۲۵ قوس سال جاری کلپ ورزشی بدمنتون اناث حمزه در دشت برچی کابل رسماً افتتاح گردید گفته میشود که در این کلپ ده ورزشکا بد منتون آموزش می بینند قابل یاد آوری است که با ایجاد فدراسیون بدمنتون در افغانستان این سیزدهمین کلپ بدمنتون دختران در شهر کابل است که افتتاح می گردد.

انتخاب بهترین های فتبال

بهترین های فتبال دنیا درسویس درمرکز فدراسیون جهانی فتبال یا فیفا گردهم آمده جوایزخویش را از سوی این فدراسیون دریافت کردند نامزدهای بهترین بازیکنان سال دنیا دربین مردان رونالدو ستاره برازیلی ازتیم بارسلونا هسپانیا، اندری سوچینکوستاره پر درخشش تیم میلان ایتالیا و تیری ها نری مهاجم تیم ملی فوتبال فرانسه هستند علی دایی بازیکن پرطرفدار ایرانی برای به ثمر رسانیدن بیش از یکصد گول دربازهای ملی خودجایزه ریکارد دار گولزن فتبال را خواهد گرفت.

درخشش ورزشکاران کیک بوکس

در هفته گذشته در شهر پشاور پاکستان تورنمنت مسابقات بین المللی کیک بوکس میان ورزشکاران کشور های افغانستان، پاکستان ایران و چین آغاز گردیده بود که در مسابقات مذکور از افغانستان به تعداد چهل ورزشکار و مربی اشتراک نموده بودند و به اساس گزارشات از این مسابقات ورزشکاران کیک بوکس افغان موفقیت های چشم گیری بدست آوردند و موفق به اخذ مدال های طلا ومقام اول گردیدند.

این مسابقات بتاریخ شانزدهم وهفدهم دسمبر ۲۰۰۴ میلادی صورت گرفت که ورزشکاران افغان نه تنها از طرف تماشاچیان افغان بلکه از طرف تماشاچیان پاکستانی نیز استقبال گرم شدند تعداد زیاد افغان ها بخاطر نگهداشت مورال تیم ورزشی کشور شان از مسابقات تماشا کردند در آخرین روز مسابقات در مقابل هزاران تماشاچی تیم ورزشی افغانستان حایز مقام اول اعلان گردید و مدال های طلایی به گردن هر یک از ورزشکاران انداخته شد. ورزشکاران افغان هر یک شکیب احمد و حسیب که موفق به مقام اول و مدال طلا گردیده بودند در عالم خوشی از مقامات کشور تقاضا کردند که با ورزشکاران افغانستان کمک های اقتصادی نموده و در فراهم نمودن امکانات و وسایل پیشرفته ورزشی به آن ها مدد نمایند. عبدالواسع یکی از ترینران کیک بوکس در رابطه به پیروزی تیم کشور گفت که ورزشکاران افغان در این مسابقات خوب درخشیدند و توانستند میزبان مسابقات را شکست بدهند. که این کار در مسابقات بین المللی کار دشوار است در حالیکه کشور میزبان در مسابقات دو تیم داشت وما یک تیم و ورزشکاران ما بسیار خوش هستند و آرزو دارند که در آینده نیز نتایج خوبی را بدست بیاورند. ورزشکاران مذکور با بدست آوردن نتایج و تجارب بهتر به کشور باز گشتند.

آخرین رده بندی فیفا

در آخرین رده بندی فیفا، دو تیم اول رده بندی برازیل و فرانسه همچنان بعنوان تیمهای اول و دوم مانند سال گذشته در جای خود باقی ماندند. در حالیکه ارجنتاین با دو درجه ارتقا در مقام سوم جای گرفت.

تیم جمهوری چک نیز با دو درجه ارتقا در مقام چهارم بجای اسپانیا که به مقام پنجمی نزول کرده انست، نشست. هالند بدون تغییر در مقام ششم و مکسیکو با یک درجه ترقی در جایگاه هفتم هستند، تیم انگلستان نیز با یک رتبه پائینتر در مقام هشتم است. پرتگال نیز با یک درجه نزول در مقام نهم، در حالیکه ایتالیا بدون تغییر در مقام دهم ایستاده است. امریکا نیز همچنان مانند سال گذشته در مقام یازدهم قرار دارد.

تیم ملی فوتبال ایران با ۶۹۷ امتیاز در رده بیستم جدول رده بندی و مقام دوم در میان تیم های آسیایی قرار گرفته است، در حالیکه تیم جاپان با ۷۰۷ امتیاز همچنان در مقام هفدهم قرار دارد. تیم ملی چین در میان تیمهای مردان جهان بیشترین جهش را با کسب ۳۲ امتیاز و رسیدن به مقام پنجاه وچهارم، بدست آورده است. سه تیم ساحل عاج، ازبکستان و سنت وینسنت نیز حداقل ۳۰ درجه جهش داشته اند. در بخش زنان نیز سه تیم برتر سال گذشته بترتیب: آلمان، امریکا و ناروی همچنان در مقام های خود باقی مانده اند. فیفا در رده بندی امسال تیمهای فوتبال زنان جهان ۱۲۱ تیم را در جدول قرار داده است که هشت تیم بیشتر از سال گذشته می باشد.

مناظره تلویزیونی رقبای انتخاباتی اوکراین انجام شد

دو رقیب انتخابات ریاست جمهوری اوکراین در آستانه رای گیری روز یکشنبه که تکرار دور دوم انتخابات ریاست جمهوری در پی مناقشه بر سر تقلب در آن است، در یک مناظره زنده تلویزیونی با یکدیگر به مجادله پرداخته اند.

صدراعظم ویکتور یانوکوویچ که پیروزی او در انتخابات ماه گذشته به علت تقلب در آرا باطل اعلام شد، در مناظره روز دوشنبه با ویکتور یوشچنکو، رهبر مخالفان، رودررو شد.

آقای یوشچنکو که فرصت آغاز مناظره به او داده شد، مقام های کشور را به تقلب در انتخابات اولیه علیه خود متهم کرد.

آقای یانوکوویچ این اتهامات را رد کرد و از رقیب خود خواست به جای اتهام زنی، با او وارد گفتگوی ملی شود.

در پی انتخابات روز ۲۱ نوامبر، صدها هزار نفر از تظاهرکنندگان حامی ویکتور یوشچنکو که او را برنده واقعی انتخابات می دانستند به جاده های کیف، پایتخت اوکراین، ریختند.

پس از آن ستره محکمه اوکراین دستور داد دور دوم رای گیری بار دیگر در روز ۲۶ دسامبر برگزار شود.

از آن زمان تاکنون فضای مبارزات انتخاباتی تیره بوده است و دو طرف شخصاً همدیگر را مورد ناسزاگویی قرار داده اند.

مناظره روز دوشنبه را آقای یوشچنکو، که به غرب متمایل است، آغاز کرد و مقام های دولت از جمله آقای یانوکوویچ را متهم به سرقت میلیون ها رای در جریان رای گیری اولیه کرد.

آقای یوشچنکو گفت: "آنها سعی کردند آینده ما را بدزدند."

وی یک بار در جریان مناظره به صدر اعظم اوکراین گفت: "خواهش می کنم متوجه باشید که شما و تیم شما سه میلیون رای را دزدیده است."

آقای یوشچنکو همچنین صدها هزار نفر از حامیان خود را که در تظاهرات ها شرکت کردند ستود.

در مقابل ویکتور یانوکوویچ که مورد حمایت مسکو بوده است، در اظهارات آغازین خود ابتدا به زبان روسی و سپس به زبان اوکراییني آقای یوشچنکو را به تقلب در آرا متهم کرد و این مساله را که او نامزد طرفدار دولت است رد کرد.

در مقابل وی لئونید کوچما، رئیس جمهور اوکراین که دوره خدمت او به زودی پایان می یابد را به همدستی با "نمایندگان کودتای نارنجی" (حامیان یوشچنکو) و عمل کردن علیه منافع عمومی متهم کرد.

وی همچنین از ویکتور یوشچنکو خواست وارد یک گفتگوی ملی شود.

وی گفت: "آیا موافقت می کنید پیش از انتخابات با آرامش در کنار من بنشینید تا درباره ادامه زندگی بعد از رای گیری با هم توافق کنیم؟" و افزود او می خواهد از هرگونه شکاف و درگیری پرهیز کند.

در جریان مناظره، طرفین بارها میان حرف یکدیگر پریدند و ضمن مبادله اتهامات بر سر هم فریاد کشیدند.

با این حال آنها پس از ایراد بیانیه های پایانی، دست یکدیگر را فشردند.



بد رفتاری نظامیان...

مأموران پولیس فدرال امریکا همچنین گزارش داده اند که بر خلاف آنچه وزارت دفاع امریکا اعلام کرده، در زندان گوانتانامو از سگ برای ارعاب زندانیان استفاده می شود.

پولیس فدرال امریکا مأموری نیز به زندان ابوغریب در عراق فرستاده که محل بازداشت افرادی است که به اسارت نظامیان امریکایی در می آیند.

این مأمور از "بدرفتاری شدید جسمی" با بازداشت شدگان در ابوغریب به شکل آویزان کردن، لت وکوب کردن و سوزاندن گوش با سگرت خبر داده و موردی را فاش ساخته است که طی آن، یکی از بازداشت شدگان را در پرچم اسرائیل پیچیده و موسیقی با صدای بسیار بلند برایش پخش کرده اند.

اتهام دیگری که علیه زندانیان نظامی امریکایی مطرح شده این است که آنان برای پیشگیری از اینکه مورد بازخواست قرار بگیرند، خود را مأموران پولیس فدرال معرفی می کرده اند.

تشکلی با عنوان اتحادیه آزادیهای مدنی در امریکا نیز شکایتی علیه دولت امریکا در ارتباط با رفتار با زندانیان اردوی امریکا در عراق و پایگاه گوانتانامو در کیوبا تنظیم کرده است.

آنتونی رومر، رئیس این تشکل در گفتگو با روزنامه امریکایی نیویارک تایمز گفته است اسنادی در اختیار دارد که نشان می دهد مقامهای بلندپایه امریکایی دیگر نمی توانند گناه بدرفتاری با زندانیان را به گردن سربازان و درجه داران رده پایین بیندازند.

وزارت دفاع امریکا هنوز به این اتهامات پاسخی نداده اما پیشتر در مواردی که بدرفتاری نظامیان امریکایی با بازداشت شدگان در محکمه به اثبات رسیده بود اعلام کرده بود که بدرفتاری با بازداشت شدگان را تحمل نمی کند.

اعتراض دولت ناروی به حکم اعدام زنی جوان در ایران

به گزارش رادیو تلویزیون دولتی ناروی (ان آر کی)، وزارت امور خارجه ناروی یکی از اعضای هیئت نمایندگی ایران در اسلو را احضار کرده تا مراتب اعتراض دولت این کشور را به صدور حکم برای اعدام لیلا. م. زن نوزده ساله ای که گفته می شود از لحاظ روانی بیمار بوده است اعلام کند.

در یادداشت اعتراضی که از سوی یان پترسن، وزیر خارجه ناروی خطاب به دولت ایران صادر شده، آمده است: "صدور حکم اعدام برای افراد کم سن که در ایران معمول است، با پیمانهای بین المللی که دولت این کشور امضا کرده، همچون کنوانسیون سازمان ملل متحد در زمینه حقوق سیاسی و شهروندی و کنوانسیون حقوق کودکان، مغایرت دارد."

پیشتر، دولت هالند نیز به عنوان رئیس دوره ای اتحادیه اروپا طی یادداشتی خطاب به دولت ایران نسبت به دوسیه لیلا. م. و سه دوسیه دیگر ابراز نگرانی کرده بود.

بنابر گزارشها، شعبه ۲۵ محکمه شهر اراک لیلا. م. را به اتهام رابطه نامشروع جنسی به اعدام محکوم کرده و این حکم را برای تأیید نهایی به ستره محکمه آن کشور ارسال کرده است.

اما فعالان حقوق بشر می گویند که لیلا فاقد سلامت روانی است و اعترافاتی که در محکمه کرده و منجر به صدور حکم اعدام برایش شده ناشی از عدم شعور کافی بوده است.

در مصاحبه کوتاهی که در یکی از روزنامه های ایران از قول لیلا به چاپ رسیده، او می گوید که در محکمه توضیح داده است که مادرش او را به فحشا وا می داشته و او با فروختن تن خود، به تأمین مصارف خانواده فقیرش کمک کرده و چندین بار به عقد دائم یا موقت مردان سالمند درآمده است.

به گزارش رسانه ها، این زن جوان دو بار در زمان بارداری، یک بار در نه سالگی و بار دیگر در سیزده سالگی به جرم "فساد اخلاقی و اقدام به ترویج فحشا" به تحمل شلاق محکوم شده و هر بار صد ضربه شلاق خورده است.

لیلا که از چند ماه پیش در زندان به سر می برد، مادر سه بچه، دو دختر دوگانه و یک پسر است.

نیروهای عراقی آماده نیستند



جورج بوش، رئیس جمهور امریکا می گوید نیروهای عراقی هنوز آماده نیستند که نظم را برقرار کنند و هشدار داد که انتخابات آینده خالی از دردسر نخواهد بود.

جورج بوش گفت که حملاتی مانند انفجار موترهای بمبگذاری شده تاثیراتی خواهند داشت، اما تاکید کرد که عراق در مسیر خود به سوی دموکراسی است.

آقای بوش یک روز پس از انفجارهای نجف و کربلا در یک نشست خبری به مناسبت آخر سال میلادی سخن می گفت که سوالات خبرنگاران در آن عمدتاً بر محور عراق می چرخید.

رئیس جمهور امریکا گفت اینکه واحدهای عراقی در جنگ با شورشیان کنار رفته اند قابل قبول نیست.

وی گفت نیروهای عراقی در مواردی مثل فلوجه خوب عمل کردند، اما در موارد دیگر هر گاه نبرد بالا گرفت صحنه را ترک کردند.

در همین حال، نیروهای امنیتی عراق می گویند که حدل اقل ۵۰ نفر را در ارتباط با بمبگذاری های روز یکشنبه در نجف و کربلا دستگیر کرده اند. پیکارجویان سنی متهم به انجام این بمبگذاری ها شده اند.

بسیاری از رهبران مذهبی شیعه عراق از شیعیان این کشور خواسته اند تا درمقابل انفجارهای کربلا و نجف دست به اقدام های انتقام جویانه نزنند.

په راتلونکي دوو...

ښاغلی کرزی په افغانستان کې لومړنی منتخب رئیس جمهور دی چې د تلې د میاشتې په انتخاباتو کې یې بری تر لاسه او دوه اونۍ مخکې یې لوړه وکړه خو تر اوسه یې کابینه نده اعلان کړې.

په اوسنی کابینه کې د مالیې او کورنیو چارو د وزیرانو په ګډون یو شمیر وزیران د امریکا تابعیت هم لري، او ښایي چې د جمهور رئیس دغه پریکړه د هغوی په دریځ اغیز ولري. پدغو دوو تابعیت لرونکو داسې نیوکې کیږي چې ګواکې دوی د افغانستان په راتلونکي باندې باور نلري.

د کوکنارو له...

د کوکنارو د کروندو له منځه ورل په افغانستان کې د نشیي توکو د تولید او قاچاق په وړاندې د مبارزې مهمه برخه جوړوي. په خوست کې پخوا د ترياکو کروندې لږوې چې په وروستیو دوو کلونو یې بزګرو ددغه توکې په کرلو سره د نشیي توکو بازار تود کړی دی.

په چهار اسیاب...

څو وروستي اونۍ د ملي اردو سرتیرو، کورنیو پولیسو، نړیوالو ایتلافي ځواکونو او ای ساف هڅې پیل کړي چې له DDR څخه په ۵۵۵ پاتې وسلې کشف او تر لاسه کړي. تر دې مهاله د ځینو جنوبي او جنوب لویدیځو سیمو په ګډون په زیاترو ولایتونو کې د وسلو غټې او کوچنی زیرمې موندل شوې چې زیاترو یې په طالبانو پورې تړاو درلود.

گزارشی از یک...

متهمین به نام های شریف و سمیع باشنده گان اصلی ولایت لغمان اند که درین منزل به عنوان کرایه نشین بود باش داشتند، مردم محل وحتی همسایه های دربه دیوار متوجه هیچ اقدام مشکوکی از سوی آنها نشده اند آنها می گویند که برایشان این مسئله اصلاً باور کردنی نیست زیرا این دو منظماً به مسجد بخاطر ادای نماز حاضر می شدند.

آدم های خوب ومتدینی به نظر می رسیدند حتی درترمیم مسجد ورنگمالی آن سهم گرفته بودند گزارش می افزاید .

منابع امنیتی درتلاش اند علاوه برجستجوی دقیق این منزل بخاطر ردیابی این جنایت سریالی به همه آن مکان های دست یابند که متهمین درآنها مدتی را بودوباش کرده اند گفته میشود قبل ازجابجایی به این منزل متهمین درخانه یی واقع در منطقه ارزان قیمت پلچرخی زنده گی می کردند، قرار یک گزارش دیگر حین تلاشی منزل یکتعداد نمبر پلیت واسناد مربوط وسایط نقلیه نیز بدست موظفین امنیتی افتاده است .

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری" و سبحان الله " داودزي"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل مدیر مسوول: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تلیفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud
Chief Editor: Zuhoor Afghan
Engineerjamil_amiry@yahoo.com
MobilPhone:070224787
eradadaily@hotmail.com
Deputy: Suhrab Didar
قیمت یک شماره ۳ افغانی